مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: محمد سمیع صادق

۲۰۲۴/۱۰/۱۷

# په لوړه محکمه کې د خان عبدالصمد خان اڅکزي تاريخي بيان

## دوهمه برخه

نو همدغه دليل دئ چي په دې سيمو کې اداره (انتظاميه) تر قانوني واک زياته خود مختاره ده، لکه څرنګه چي د انګريزانو په دوره کې وه. نن هم په دې سيمو کې د جرمونو قانون، جرګې، سرداران او قومي مشران حاکميت لري. د عالي محکمې (های کورټ) او حتی د ستري محکمې (سپريم کورټ) هم پر دی قبيلوي سيمو باندې هېڅ واک او صلاحيت نه سته. که څه هم دا سيمي مخکي د هندوستان او اوس د پاکستان برخي دي، خو نه په هغه وخت کي او نه هم اوس حکومت، که هغه مرکزي وي او که ايالتي، د دې سيمو د قوانينو، نظم و نسق او بوديجي سره کوم تړاو لري. په هغه وخت کي دا ټول کارونه د ګورنر جنرال (نايب السلطنه) تر مسئوليت لاندي ول او اوس ئې د پاکستان ولسمشر واک لري.

په هغه زمانه کي له هندوستان څخه دې ايالت ته راتلونکي کسان په اسانۍ سره داخلېدلای نه سوای. هغه کسان چي دې صوبې ته رسېدل، نه يوازې د هغوی نوم، ادرس او د راتګ علت ثبت کېدل، بلکه د پاته کېدو موده او په بلوچستان کي د اوسېدو د ځای ټول تفصيلات ځني اخيستل کېدل، او له هغې وروسته ئې نو بيا په رسمي توګه پلټنه کېده. اکثره خلګ په وړو او بې بنياده پلمو بېرته شړل کېدل. هېڅ چا ته اجازه نه وه چي هلته د خدر په جامه کي داخل سي او نه کوم کس د خدر يا کوم سياسي تحريک نښه اغوستلای سوای. اکثر وخت ډېر وياړلي مسافر يوازې د دې لپاره د اورګاډي له تمځي څخه بېرته شړل کېدل چي د خدر په جامه کې به ملبوس ول. د باچا خان پر داخلي بنديز او د هغه نيونه خو لا تازه پېښه ده. په هغه وخت کي نه کومه چاپخانه موجوده وه او نه کومه ورځپاڼه، د مطبوعاتو قانون (پريس ايکټ) په ۱۹۳۶ م. کال کي په هغه سيمه کي پلی سو.

بلوچستان له هره پلوه د هېواد د نورو سيمو
په پرتله وروسته پاتی دئ، خو نننی بلوچستان د تير وخت له بلوچستان سره هېڅ مشابهت نه لري.
لومړنی توقيف

له پورته ذکر سويو څرګندونو څخه تاسي اټکل کولای سئ چي هغه څه ډول بلوچستان وو، چي د خدمت لپاره مي د خپلو څو ملګرو سره په ګډه خپله اوږه ورکړه. زموږ اراده دا وه چي داسي يوه ټولنه رامنځته کړو چي د ديني او ټولنيزو ارزښتونو پر بنسټ ولاړه وي، او په حقيقت کي د داسي يوې ټولني اړتيا هم په شدت احساس کېده. کله چي زه، زما مشر ورور ،چي اوس هم يو غير سياسي او خير خواه شخصيت دئ، او له يو عزيز محمد ايوب خان سره يوځای، د يادي ټولني له بنسټ ايښودو مخکي ونيول سوو، نو زما لپاره هېڅ د حيرانی خبره نه وه. خو زه په دې نه پوهېدم چي حکومت به زموږ پر وړاندي کوم تورونه ولګوي. ډېر وخت تېر نه سو چي يوه پلمه يې پيدا کړه. زموږ د نيوني شا و خوا شل ورځي وروسته، زموږ د قبيلي څو تنو زموږ په ناخبرۍ کي (موږ ئې په اړه نه وو خبر) دوه برتانوي افسران او يوه مېرمنه د کوټي چمن پر سړک برمته کړل. دا فقط يو انتقامي غبرګون وو، چي د خپلو بې ګناه ښځو د نيوني په مقابل کې ئې ترسره کړ، او اعلان يې وکړ چي دوی به دا برتانوي وګړي په هغه شرط خوشي کړي چي موږ آزاد کړل سو.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

حکومت په عاجل ډول موږ ته په دې تور جزا راکړه، ګواکي د دې اختطاف پلان موږ جوړ کړی وو. که څه هم هغوی خپله هم د خپل لګول سوي تور پر ناسم والي پوره باوري ول. زموږ کورنۍ له ډېرو سترو ګړاوونو او ستونزو سره مخامخ سوه، د ټولنیزو جرېمو، نیونو، شکنجو او پر وړاندې ئې د تاوتریخوالي په بڼو ډېرې سختۍ ګاللې. له دې ټولو حالاتو څخه پر ما دا حقیقت څرګند سو چي په سیاسي ډګر کي قصدي یا غیر قصدي ډول د تاوتریخوالي کارول په بشپړ ډول بې ځایه او بې ګټې دئ.

نو ما دا پرېکړه وکړه چي زه به تل د تاوتریخوالي له کارولو او د هغه له هڅوني څخه ډډه کوم او تر ننه ورځي پوري د دې پرېکړې په عملي کولو کي هڅاند یم. د ژوند د تګلارې لپاره مي په ډېر کوچني عمر کي هغه لاره وټاکله چي د خپلو شخصي تجربو او داخلي بصیرت نتیجه مي وه. په دې کي د کوم بهرني عنصر، فرد یا سازمان لاس نه وو، او نه هم ما تر هغه وخته پوري له کوم بهرني عامل سره اړیکه ټینګه کړې وه. د مطبوعاتو او سیاسي ادارو د نشتوالي له امله زموږ د نیونې، جزا او د هغې شالید په اړه نه د بهر خلکو ته او نه هم په بلوچستان کي چاته کومه خبرتیا ورکړل سوه .

د ګاندهي - اروین تړون وروسته یو پنجابي سوداګر، د ډېرو شخصي خطرونو سره سره، دا خبره په پټه د زمیندار لاهور ورځپاڼي مدیر ته ورسوله. یاد سوي مدیر د تړون له مخي زموږ د خوشي کولو غوښتنه وکړه، او برتانوي چارواکو شاید د لا زیاتو تبلیغاتو د مخنیوي په موخه موږ له ټاکلي مودې مخکي خوشي کړو.

له هندي مشرانو سره لیدنه

د ۱۹۳۱ م. کال د جولای په وروستی اوونی کي، څو همکارانو زه بمبی ته ولېږلم، ترڅو له هغو استازو سره وګورم، چي په دوهم ګردي میز ناستي (ګول مېز کانفرنس) کي د ګډون لپاره لندن ته روان ول، او د بلوچستان د حالاتو په اړه معلومات ورته ورکړم.

مهاتما ګاندي د کانګرس د استازي په توګه ټاکل سوی وو، خو هغه لا تر اوسه د تګ پرېکړه نه وه کړې. کله چي زه د بمبی پر لور روان وم، له هغه سره مي په احمدآباد کي ولیدل، چي دی په هغه وخت کي پکښي مېشت وو. د هغه چلند له ما سره د خواخوږۍ او مهربانۍ ډک وو. هغه راته وړاندیز وکړ چي له ده سره بمبی ته ولاړ سم او دا هیله یې څرګنده کړه چي هلته له ده سره پاته سم، ترڅو له هغو استازو سره چي د ګول میز کانفرانس لپاره د هغه سره لیدو ته به حتماً راځي، په اسانۍ ملاقات وکړای سم. په دې ترڅ کي زه اړ سوم چي له هغه سره پنځلس ورځي تېري کړم. په دغه موده کي ما ته له بېلابېلو هندي مشرانو سره د لیدو او خبرو اترو زمینه برابره سوه، او له هغو کسانو سره مي هم تماس ونیوی چي له ګاندي سره د ملاقات لپاره نه وه راغلي. په دغو کسانو کي، په ځانګړي ډول، د قائد اعظم یادونه د پام وړ ده. په دې موقع زما هغه اړیکي چي ما جوړي کړې، په راتلونکو کلونو کي ئې د ژوري او پایداره ملګرتیا بنسټ کېښېنود. په دې کسانو کي، له باچا خان سره ،چي په لومړي ځل مو په بمبی کي سره ولیدل، زما اړیکي تر ننه ورځي پوري ډېري ژوري او نژدې پاته دي.

هلته مي د خدر د جامو اغوستلو دریمه ژمنه وکړه. د خدر کالي مي ډېر خوښ سوه، ځکه چي په اصل کي دا د برتانوي استعمار پر وړاندې د مبارزې یو سمبول ګڼل کېدی.

مسلم مطبوعات او بلوچستان

په ۳۲-۱۹۳۱ م. کلونو کي د بلوچستان یو شمېر قومپالو ځوانانو د نوابزاده میر یوسف علي خان مګسي په پیروي کي د نورو ولایتونو په مطبوعاتو کي مقالي خپرې کړې او په نړیواله ټولنه ئې بلوچستان وپېژندی. نوابزاده یوسف علي خان د بلوچستان په اړه د لاهور په ورځپاڼه مساوات کي یوه مقاله خپره کړې وه، چي په پایله کي د قلات جرګې د هغه څخه ،له اتلسو میاشتو بند وروسته، لس زره روپۍ جریمه واخیسته. په دې مبارزه کي موږ ته د پنجاب له مسلم مطبوعاتو او مسلمان خبریالانو څخه د پام وړ مرسته راورسېده. د زمیندار ورځپاڼي او د هغه مشر مولانا ظفر علي خان، د انقلاب ورځپاڼي او د هغه مشرانو مولانا عبدالمجید سالک او مولانا غلام رسول مهر په دې مرستو کي مخکښ او مهم رول ولوباوه.

په سند کي د بلوچستان تحریک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

په بلوچستان کي حکومت د هر ډول تحريک د ودي او پرمختګ د مخنيوي په لړ کي ډېر کلک دريځ درلود. زما د حرکتونو او فعاليتونو په ډېر شدت او پوره دوام څارنه کېدله، او چېري به چي زه تلم او د چا مېلمه به وم، پوليس به زما کوربه په نيمه شپه کي له خوبه راپا څاوه او زما په اړه به ئي پوښتني ځني کولي. بل سبا به يې هغه ته د پوليسو حوزې ته د حاضريدو امر کاوه او هغه ته به ئي اذيت ورکاوه. دا کړنلاره نن هم عملي کېږي، که څه هم د پخواني شدت په کچه نه ده. په دغو حالاتو کي، د بلوچستان قومپالو ځوانانو چي د مطبوعاتو له لارې يې له يو بل سره پېژندګلوي ترلاسه کړې وه پرېکړه وکړه چي له بلوچستان څخه بهر يو تحريک پيل کړي.

نور بيا...
ژباړه: محمد سميع صادق


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولـئ